# د رسول الله ﷺ ښوونیزه کړنلاره او د هغې اغیزې

پوهندوی جنید الله ظهیر



د رسول الله ﷺ ښوونیزه کړنلاره او د هغې اغیزې

پوهندوی جنید الله ظهیر

# The Prophet's (SAW) Educational Methods & Its Impacts

Assistant Professor Junaidullah Zaheer

2022

ISBN 978-9936-661-43-1

9 789936 661431

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# د رسول الله ﷺ ښوونیزه کړنلاره او د هغې اغېزې

پوهندوی جنید الله ظهیر

## د کتاب ځانگړنې

**د کـتاب نوم:** د رسول الله (ص) ښوونیزه کړنلاره او د هغې اغېزې

**لیکوال:** پوهندوی جنید الله ظهیر

**ایډیټر او مهتمم:** څېړنوال دکتور محمد یعقوب عبدالرحیمزی

**خــپرنـدوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** لایف سټار مطبعه، کابل- افغانستان

**د چاپ کال:** ۱۴۴۴هـ. ق /۱۴۰۱ هـ. ش کال

**ISBN:** ۱- ٤٣- ٦٦١- ۹۹۳٦- ۹۷۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د لارښود استاد تقریظ...................................................... ا
تقریظ........................................................................ب
تقریظ........................................................................ج
مخکینی خبرې.................................................................د
لنډیز........................................................................ه
سریزه ...................................................................... ۱
دمسألې بیان ................................................................ ۱
د موضوع ارزښت:............................................................ ۲
د موضوع د انتخاب لاملونه:............................................... ۳
د بحث او موضوع ستونزې: ................................................ ٤
د څېړنې موخې او اهداف:................................................. ٥
د څېړنې او تحقیق پوښتنې:................................................. ٦
د موضوع تاریخي شالید: .................................................... ۷
د موضوع مراجعو ته لنډه کتنه:.......................................... ۱۰
د څېړنې محدودیتونه ..................................................... ۱٥
د څېړنې د لیکلو میتود او کړنلاره:...................................... ۱٦
د څېړنې جوړښت ............................................................ ۱۸


**لومړی فصل**

**ښوونکی پیغمبر او پر تعلیم دهغه ټینګار**


۱- لومړی مبحث: ښوونکی پیغمبر ............................................ ۱۹
لومړی مطلب: دقرآن په استشهاد دامت تعلیم درسول الله ﷺ له دندو څخه وه ..... ۱۹
دویم مطلب: د نبوي سنتو په مصداق رسول الله ﷺ ښوونکي و......... ۲٦

۲- دویم مبحث: د رسول الله ﷺ تعلیمي شخصیت........................ ۲۴
لومړی مطلب: د رسول الله ﷺ تعلیمي شخصیت کمال او ځانګړنې............ ۳۱
دویم مطلب: د رسول الله ﷺ د امیت (نا لوستي) حکمتونه ........................ ۳٤
دریم مطلب: دتعلیم په خپراوي کې درسول الله ﷺ ونډه ........................ ۳۷
۳- دریم مبحث: د بې سوادي له منځه وړولو کې د رسول الله ﷺ لارښوونې... ...... ٤٤
لومړی مطلب: د بې سوادي له منځه وړولو کې د رسول الله ﷺ لارښوونې ............ ٤٤
دویم مطلب: د بې سوادي له منځه وړولو کې د رسول الله ﷺ کړنلارې ............ ٤٩
٤- څلورم مبحث: د قرآن کریم د آیاتونو او نبوي سنتو په رڼا کې........................ ۵۲
لومړی مطلب: د قرآن کریم د آیاتونو په رڼا کې د علم فضیلت او اهمیت ............ ۵۲
دویم مطلب: دنبوي سنتو په رڼا کې دعلم فضیلت........................ ٦۳
۵- پنځم مبحث: دنبوی سنتو له مخې دتعلیم دلاس ته راوړلو آداب ................ ۷۲
لومړی مطلب: د ښوونکي آداب ........................ ۷۲
دویم مطلب: د زده کوونکو آداب ........................ ۷٦
دریم مطلب: د علم په لاس ته راوړلو کې د نبوت د ځانګړو اخلاقو تمرکز........... ۷۹
٦- شپږم مبحث: د نبوي سنتو له مخې د تمدنونو په جوړښت کې د تعلیم تاثیر..... ۸۸
لومړی مطلب: د نبوي سنتو له مخې د تمدنونو په جوړښت کې د تعلیم تاثیر ....... ۸۸
دویم مطلب: په تعلیم کې د غفلت څخه درسول الله ﷺ ویره ........................ ۹۳

## دویم فصل

## د رسول الله ﷺ د تعلیم او ښوونې کړنلارې

۱- لومړی مبحث: د ښوونیزو اخلاقو غواروی ........................ ۹۹
لومړی مطلب: دښوونکي اخلاص........................ ۱۰۰
دویم مطلب: د ښوونکي رینتونولي ........................ ۱۰٦
دریم مطلب: له خبرو سره دکړونو مطابقت........................ ۱۰۹
څلورم مطلب: تواضع کول ........................ ۱۱٤
پنځم مطلب: له بدو او پوچو خبرو څخه ډډه کول ........................ ۱۱۸

شپږم مطلب: له زده کوونکو سره وخت په وخت خوش طبیعتی کول ............. ۱۲۲
اووم مطلب: له خبرو او بیان وړاندي په فعل او کړنه تعلیم ورکول ............ ۱۲۶
اتم مطلب: په ښوونه کې د دوستۍ لهجې کارول ....................... ۱۳۱
نهم مطلب: په ښوونه کې د اساني مراعت ............................. ۱۳۵
۲- دویم مبحث: له مناسبو فرصتونو څخه په ښوونه کې ګټه اخیستل ............ ۱٤۰
لومړی مطلب: دبیلا بیلو حالاتو او پوښتونکو لپاره جلا ځوابونه ورکول.......... ۱٤۲
دویم مطلب: د بیلا بیلو حالاتو او نصیحت غوښتونکو لپاره ځانګړی نصایح... ..... ۱٤۷
دریم مطلب: د زماني او حالاتو په پام کې نیولو سره د غوره اعمالو ښوونه ......... ۱۵۱
۳- دریم مبحث: په ښوونه کې دښو او مناسبو جملو استعمال ....................... ۱۵۵
لومړی مطلب: جوامع الکلم جملې .......................................... ۱۵۹
دویم مطلب: فواتح الکلم جملې ............................................... ۱٦۵
دریم مطلب: خواتم الکلم جملې ............................................... ۱٦۵
٤- څلورم مبحث: په ښوونه کې د ګڼو حسي او معنوي وسایلو استعمال........... ۱٦٦
لومړی مطلب: دځمکې پر مخ د نقشې او رسم سره د تعلیم وړاندې کول ......... ۱٦۷
دویم مطلب: د تعلیم او تبلیغ په موخه د لیکونکو توکو کارول...................... ۱۷۲
دریم مطلب: د تعلیم پر موخه د بهرنیو ژبو زده کول................................. ۱۷۹
۵- پنځم مبحث: په تعلیم کې دغفلت او سستیا په صورت کې دتوبیخ ... ......... ۱۸٤
لومړی مطلب: په ځینو وختونو کې د قهر، غصې او سختۍ کارول.................. ۱۸٦
دویم مطلب: دغفلت په وخت کې په ګوتې د زده کوونکي غوږ وهل ............. ۱۹۰
دریم مطلب: د خطاکارانو ډبول ............................................... ۱۹۲
څلورم مطلب: په وړو خطا ګانو د ګوت څنډنې په وخت کې د نوم نه ښودل ....... ۲۰۱
٦- شپږم مبحث: په ښوونه او تعلیم کې د بیلابیلو بلاغي صنعتونو استعمال ....... ۲۰٤
لومړی مطلب: د محاورې او پوښتنو اسلوب کارول ................................ ۲۰٦
دویم مطلب: د زده کوونکو د ذکاوت موندنې په موخه له هغوی پوښتنې کول ..... ۲۱۲
دریم مطلب: پر قیاس او تمثیل دتعلیم ورکول ..................................... ۲۱۷
څلورم مطلب: پر تشبیه او متل راوړلو سره ښوونه ورکول .......................... ۲۲٤

پنځم مطلب: د قسم او حلف پر لاره ښوونه ........................... ۲۳۰
شپږم مطلب: د یو مضمون د ښه فهم په موخه د مسئلې بیا بیا تکرارول: .......... ۲۳۳
اووم مطلب: د یوې مسئلې په ښوونه کې د اجمال او بیا تفصیل وړاندې کول ..... ۲۳۵
اتم مطلب: دشمیر لرونکو ځیزونو د حساب شمیرل او بیا د هغې تفصیل... ....... ۲۳۸
نهم مطلب: په ښوونه کې د اقتباس کارول ........................... ۲۳۹
لسم مطلب: د لغز (کیسۍ) په توګه د خبرې بیان ............................ ۲٤٤
یوولسم مطلب: په ښوونه کې د ایجاز او اختصار څخه کار اخیستل ............... ۲٤۷
دولسم مطلب: په جناس او بې تکلفې سجعې سره ښوونه ورکول ................. ۲۵۰
دیارلسم مطلب: تور یې سره ښوونه ورکول ............................ ۲۵٦
څوارلسم مطلب: مخاطبینو خبرې د ارزښت لپاره په ابهام او تلوسه کې ساتل..... ۲٦۰
۷- اووم مبحث: په ښوونه او تعلیم کې د ځانګړو حرکتونو او اشارو د ژبې کارونه ... ۲٦۳
لومړی مطلب: په ښوونه کې د خبرې او اشارې یوځای کارول......................... ۲٦۵
دویم مطلب: دمنهیاتو څخه د لرېتوب لپاره د هغه ځیز په لاس پورته کول ........ ۲٦۸
دریم مطلب: د مخاطب د متوجه کولو په موخه د هغه د لاس او اوږې نیول........ ۲۷۰
څلورم مطلب: په ځینو حالاتو کې یوازې د سر خوځول ......................... ۲۷۳
پنځم مطلب: دسترګو د حرکاتو د ژبې کارول................................. ۲۷۸
شپږم مطلب: د خبرو او نطق د ژبې استعمالول .............................. ۲۸٤
اووم مطلب: ځینو وختونو کې خندا کول، او د خندا ډولونه ........................ ۲۹۰
اتم مطلب: په لاسونو او ګوتو عملی ښوونه ورکول ............................ ۲۹٤
۸- اتم مبحث: په ښوونه کې د زده کوونکو د حالاتو په پام کې نیول.............. ۲۹۹
لومړی مطلب: د زده کوونکو ترمنځ د فردي توپیرونو مراعتول ...................... ۳۰۰
دویم مطلب: ځانګړي تعلیم لپاره د ښه فهم او پوهې خاوندانو غوراوی ............ ۳۰٤
دریم مطلب: عوامو ته د متشابهاتو نه وړاندې کول.............................. ۳۰۵
څلورم مطلب: مخاطب ته له ځواب ورکولو وړاندې هغه ته بیا بیا غږ کول ......... ۳۰۸
پنځم مطلب: د مخاطب بیا بیا متوجه کول ..................................... ۳۰۹
شپږم مطلب: د زده کوونکو پر پوښتنو ملنډې نه وهل.............................. ۳۱۲

اووم مطلب: د زده کوونکو د سويې لوړولو په موخه د هغوی هڅول او درناوی کول ۳۱۵
۹- نهم مبحث: په ښوونه کې د اسلوب حکیم کارول ........................ ۳۱۹
لومړی مطلب: د اړتیا په صورت کې د پوښتنې له کچې پورته ځواب ورکول ........ ۳۲۰
دویم مطلب: د حکمت په موخه پوښتنه کوونکی بلې مسئلې ته متوجې کول ..... ۳۲۲
دریم مطلب: په سکوت او تقریر سره د امت تعلیم ............................ ۳۲۵
څلورم مطلب: د سختې او پارونکې مسئلې په ښوونه کې پر اشارې اکتفاء... ...... ۳۲۷
۱۰- لسم مبحث: د ښځو او ماشومانو تعلیم ته ځانګړې پاملرنه ..................... ۳۳۰
لومړی مطلب: د ښځو په ښوونه ځانګړې پاملرنه ............................ ۳۳۱
دویم مطلب: د ښځو د ښوونې لپاره د ځانګړي وخت ټاکل ........................ ۳۳۷
دریم مطلب: د ماشومانو په ښوونې ځانګړې پاملرنه.......................... ۳٤۰
۱۱- یوولسم مبحث: په ښوونه کې د بیلا بیلو کړنلارو او حالاتو غوراوی ............ ۳٤۸
لومړی مطلب: د پوښتونکو پوښتنو ته ځواب ورکول ............................ ۳٤۸
دویم مطلب: د وعظ او یادونې په توګه د یوې مسئلې بیان ........................ ۳۵۲
دریم مطلب: په ویرونې او هڅونې ورکولو سره د یوې مسئلې بیان .................... ۳۵۷
څلورم مطلب: په قصو او داستانونو سره ښوونه ورکول ............................ ۳٦۲
پنځم مطلب: خبرواترو او عقلي موازنې سره د باطل له منځه وړل او د حق اثبات.. ۳۷۱
شپږم مطلب: دلیل او تعلیل ویلو سره ښوونه ورکول............................ ۳۷٤
اووم مطلب: په ښوونه ورکولو کې له نورو ګواهي اخیستل ............................ ۳۷۷
اتم مطلب: د مشورې له لارې د تعلیم ورکړه ........................................ ۳۷۹
۱۲- دوولسم مبحث: په ښوونه کې د تدریس د اصولو او ضوابطو مراعت........... ۳۸۳
لومړی مطلب: په تدرج او پړاونو سره ښوونه ورکول ................................ ۳۸٤
دویم مطلب: په ښوونه کې د اعتدال مراعتول او د ستړیا مخنیوی................... ۳۸۹
دریم مطلب: د اصحابو د تمرین په موخه دوی ته د ځینو پوښتنو تفویض ... ...... ۳۹۳
څلورم مطلب: د سختې او پارونکې مسئلې په ښوونه کې د تمهید او مقدمې... ... ۳۹۷
پنځم مطلب: د خطاګانو په اصلاح ښوونه ورکول .................................. ٤۰۰
شپږم مطلب: د ابتکار او نوښت ستاینه کول ........................................ ٤۰٤

اووم مطلب: نيکې مجادلې او مناقشې سره د تعليم خپراوی ...................... ٤١٠
اتم مطلب: له ښوونې څخه وړاندې له زده کوونکو څخه د مهمو پوښتنو ... ........ ٤١٣
نهم مطلب: د موضوع د ارزښت لپاره د ښوونکي د ځای، حالت او خبرې بدلون... ٤١٧

## دريم فصل

## د رسول الله ﷺ د ښوونيزې کړنلارې ارزښت او اغيزې

١- لومړی مبحث: د رسول الله ﷺ د ښوونيزې کړنلارې اهميت او ارزښت ......... ٤٢٣
لومړی مطلب: په تعليم او ښوونه کې د ښوونيزې کړنلارې ضرورت او ارزښت....... ٤٢٣
دويم مطلب: د رسول الله ﷺ د ښوونيزې کړنلارې اهميت او ارزښت ............ ٤٢٧
٢- دويم مبحث: د رسول الله ﷺ د ښوونيزې کړنلارې اغيزې ..................... ٤٣٣
لومړی مطلب: د ديني اصولو له مخې د دغې کړنلارې ارزښت......................... ٤٣٥
دويم مطلب: د تعليم په پرمختګ او پياوړتيا کې د دغې کړنلارې ارزښت........... ٤٣٩
دريم مطلب: د اخلاقو په ډګر کې د رسول الله ﷺ د ښوونيزې کړنلارې اغيزې.... ٤٤٣
څلورم مطلب: په ټولنيزه برخه کې د رسول الله ﷺ د کړنلارې اغيزې .............. ٤٤٧
٣-- دريم مبحث: د معاصرې تدريس پوهنې له اصولو سره د رسول الله ﷺ........ ٤٥١
لومړی مطلب: دمعاصرې تدريس پوهنې سره د دغې کړنلارې ورته والي .......... ٤٥١
دويم مطلب: ددغې کړنلارې بيلتونونه ....................................... ٤٥٤
٤- څلورم مبحث: د رسول الله ﷺ د ښوونيزې کړنلارې ځانګړتياوې: ............... ٤٥٦
د څېړنې پايلې: ........................................................ ٤٦٩
مناقشه ................................................................ ٤٧٣
نتيجه ګيري ............................................................ ٤٨١
وړانديزونه.............................................................. ٤٨٣
ماخذونه ............................................................... ٤٨٥

## د لارښود استاد تقریظ

ښاغلی پوهنمل جنیدالله ظهیر د مولوي غلام حسین زوی د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي ثقافت څانگې استاذ چې د پوهندوی علمي رتبې ته د رسېدو په موخه یې **"د رسول الله صلی الله علیه وسلم ښوونیزه کړنلاره او د هغې اغېزې"** تر سرلیك لاندې څېړنیزه رساله لیکلې ده، نوموړې رساله په یوې معیاري سریزې پیل او کره عناوین یې په لاندې توگه لیکل شوي دي:

- د مسألې بیان
- د بحث او موضوع ستونزې
- د څېړنې موخې او اهدف
- د موضوع تاریخي شالید
- د څېړنې د لیکلو مېتود او کړنلاره
- ښوونکی پیغمبر او پر تعلیم د هغه ټینگار
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم تعلیمي شخصیت
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تعلیم او ښوونې کړنلارې
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښوونیزې کړنلارې ارزښت او اغېزې

د څېړنې پایلې، مناقشه، نتیجه گیري، وړاندیزونو او مأخذونو باندې پایته رسېږي چې تر هر اصلي عنوان لاندې بېلابېل فرعي عناوین شتون لري او محتوی یې په روانو او روښانه ټکو انځور شوې ده، چې هر لوستونکی پرې ښه پوهېږي او د رسالې په پای کې مأخذلیکونه په معیاري بڼه ترتیب شوي چې لنډیز یې دا دی:

د رسالې څېړنیزه لیکنه په پوهنتوني بڼه لیکل شوې او هر لوستونکي ته ښه پیغام لري، املایي غلطي نه لري او په دې عنوان تر اوسه چا کتاب نه دی لیکلی، د یوه څېړنیز کتاب په توگه مینه‌والو ته گټور کتاب دی او زه یې د پوهندوی علمي رتبې ته وړ بولم او لیکوال ته له الله جل جلاله څخه د نور هاند او هڅې توفیق غواړم.

په درنښت

پوهاند خلیل الله مهمند

د شرعیاتو پوهنځی استاد

## تقریظ

محترم پوهنمل جنیدالله ظهیر استاد دیپارتمنت ثقافت اسلامی پوهنحی شرعیات پوهنتون کابل بنابر لزوم دید دیپارتمنت مربوطه و شورای علمی پوهنحی، اثری را تحت عنوان «***د رسول الله صلی الله علیه وسلم شوونیزه کرنلاره او د هغې اغیزې***» به حیث اثر اصلی به منظور ترفیع از رتبه علمی پوهنمل به رتبه علمی پوهندوی تحقیق وبه رشته تحریر درآورده است، این اثر حاوی پیشگفتار، خلاصه ، فهرست مطالب، مقدمه معیاری، مطالب اساسی وبنیادین، یافته های تحقیق، مناقشه، نتیجه گیری، پیشنهادات وفهرست منابع می باشد.

محقق محترم، درآغاز بعد از مقدمه، ارائه مسأله، اهمیت موضوع، عوامل انتخاب موضوع، طرح پرابلوم، اهداف تحقیق ، سوالات تحقیق، پیشینه تاریخی موضوع ، مروری بر مهم ترین مراجع و منهج وروش کار، پیرامون موضوعاتی از قبیل *شوونکی پیغمبر اوپرتعلیم د هغه تینګار، د رسول الله ﷺ د تعلیم او شوونې کرنلاری او د رسول الله ﷺ شوونیزی کرنلاری ارزښت او اغیزی*، توضیحات لازم داده ودر اخیر نتایج تحقیق خود را مناقشه نموده وبا یک نتیجه گیری وپیشنهادات رساله هذا را خاتمه داده است.

استاد محترم به خاطر تکمیل کار این اثر علمي- تحقيقي از کتب ومراجع معتبر داخلی وخارجی که بیشتر آنها به زبان عربی تحریر یافته وتعداد شان به بیش از (۲۰۰) اثر می رسد، استفاده نموده است.

ازانجایی که استاد محترم درایجاد این اثر از تمام اصول و موازین قبول شده تحقیق در سطح وزارت محترم تحصیلات عالی کشور استفاده نموده است، این جانب با درنظر داشت نکات ذکرشده اثر نام برده را یک اثر علمی- تحقیقی ارزیابی نموده و آن را برای ترفیع به رتبه علمی پوهندوی به حیث اثر اصلی کافی می دانم و ازبارگاه خداوند منان برای نویسنده آن موفقیت های هرچه بیشتری را در زمینه خدمت به علوم وجامعه اسلامی مسألت می نما یم.

با احترام

پوهاند دادمحمد نذیر

عضو کدر علمی پوهنحی شرعیات

در جلسه منعقده ۶۰ مورخ 25/4/1399 ...

## تقریظ

محترم پوهنمل جنیدالله ظهیر فرزند مولوی غلام حسین عضو کادر علمی دیپارتمنت ثقافت اسلامی پوهنځی شرعیات پوهنتون کابل اثر علمی خویش را جهت نیل به رتبه علمی پوهندوی تحت عنوان : " **د رسول الله صلی الله علیه و سلم ښوونیزه کړنلاره او د هغې اغیزې**" تحریر و تکمیل نموده اند.

موصوف بعد از ایراد مقدمه در مورد بُعد معلم بودن پیامبر اسلام صلی الله علیه و سلم روشنی انداخته و اهمیت تعلیم و تعلم را از دیدگاه قرآن مجید و سنت مطهره مورد بحث و بررسی قرار داده اند. در بخش دوم پیرامون روش های تعلیمی پیامبر صلی الله علیه و سلم از خلال سیرت متبرکهٔ ایشان تحقیق همه جانبه نموده و در حدود اضافه تر از ده روش مختلف النوع را در این عرصه استنباط کرده و هریک را مفصلاً با مثال و نمونه های آن بطور مستدل مورد بحث و تحقیق قرار داده اند. در بخش سوم در رابطه به تأثیرات این روش ها در عرصهٔ تعلیم و تعلم توضیحات لازم را ارائه نموده و آنرا با روش های معاصر در عرصهٔ تدریس مورد مقایسه قرار داده، ویژگی روش های پیامبر اسلام صلی الله علیه و سلم را در این مورد بیان کرده اند.

در اخیر نتایج و یافته های تحقیق، با یک مناقشهٔ علمی بیان شده و نتیجه گیری نهائی در این مورد ذکر گردیده است و همچنان پیشنهادات سودمند و مفیدی در این زمینه ارائه شده و فهرست منابع و مآخذ که در تحقیق این موضوع استفاده شده و بیشتر از دو صد مأخذ میباشد ، بطور معیاری درج گردیده است.

محترم پوهنمل جنید الله ظهیر سعی و تلاش ورزیده اند تا در تحقیق این اثر بکر و تحقیقی معیار های علمی و اکادمیک را مراعات کرده از منابع معتبر استفاده نموده و امانت علمی را در مستند سازی متون مورد نظر داشته باشند و اثر تحقیقی خویش را به اسلوب روان و سلیس زبان پشتو تحریر نمایند تا مورد استفادهٔ همگان قرار گیرد.

بنابرین چون این اثر علمی یک اثر بکر و تحقیقی بوده و معیارهای علمی و اکادمیک در آن رعایت شده است، بناء جهت ترفیع به رتبه علمی پیشنهاد شده بعد از تکمیل متباقی شروط، کافی می باشد و موفقیت های مزید را در عرصه های علمی آینده برایشان از الله ﷻ استدعا مندم.

با احترام

پوهاند دکتور عبدالله نورعابد

عضو کادر علمی پوهنځی شرعیات

پوهنتون کابل

در جلسه منعقده شماره 60 (25/4/1399) قرائت گردید به اتفاق آراء تائید شد و تصدیق است -

# مخکینۍ خبرې

الحمد الله الذي هدانا لهذا، وما كنا لنهتدي لولا آن هدانا الله والصلاة والسلام على محمد النبي المصطفى المبعوث رحمة للعالمين وعلى آله وصحابته الراشدين المهتدين وعلى من تبع سنته وهداه إلى يوم الدين.

اما بعد:

ښوونه او روزنه د بشريت او انساني ټولنو ترمنځ هغه سپيڅلی او ارزښتناک سرليک دی، چې له پخوا څخه د بشري حقوقو په لړ کې مطرح کېږي او په دې ترتيب هغه تمدنونه د پرمختګ او لوړتيا ادعا کولی شي، چې له دغې پانګې څخه برخمن وي او راتلونکو نسلونو ته خپل ميراث پريږدي. اسلامي تمدن شمله دنورو تمدنونو څخه ځکه لوړه ده چې د بشريت پوهنه او روزنه يې خپل شعار ګرځولی او سپيڅلي پيغمبرﷺ هم خپله بلنه د بشريت ښوونه او روزنه ښوودلې ده. د دغه دين په اساسي مراجعو لکه قرآن کريم او نبوي سنتو کې په ډېره پيمانه د عقل، فکر، نظر، برهان، علم او حکمت ويي (کلمات) مخې ته راځي، چې دا ټول د دغې قضيې ښکاره او کره ثبوت دی؛ مګر د دغې لوړتيا او درنښت سربيره دا خبره هم د يادولو ده، چې تدريس او ښوونيزه دنده يوه ستره چاره ده او سره له دې له ښوونکي او معلم څخه ډېر زيار او اخلاص غواړي؛ ځکه ښوونکی د بشر له استعداد او فکر سره سروکار لري او د هر عصر او ځای په پام کې نيولو سره د هغه دنده توپير کوي، چې له همدې مخې د يوې کړنلارې او ګڼو وسايلو غوراوی غواړي. همدي اصل ته په پام دا ليدل کيږي، چې د پيغمبر ﷺمبارک او سپيڅلي سنت د دغې موخې بډايه او شتمنه سرچينه ده او د دغه تخصص خاوندان ورته په هر عصر او زمان کې اړتيا لري؛ ځکه د هغه ښوونيزه لاره اسانه، رڼه او د نجات لار ده. بنده د شرعياتو پوهنځي د استاذ په توګه دا هوډ وکړ، چې د دغه ارزښت د روښانتيا په اړه څه کار ترسره کړم، ترڅو ما ته له يوې خوا د نيک عمل په شکل حساب او له بلې خوا د پوهې مينانو ته د يو ناڅيز خدمت په توګه ډالۍ شي. په همدې موخه ما د پوهندوی علمي رتبې ته د ترفيع لپاره د رسول الله ﷺښوونيزه کړنلاره او د هغې اغيزې تر سرليک لاندې د رسالې په ليکلو پيل وکړ.

## لنډيز

رسـول اللـهﷺ د مسـلمانانو لپـاره پـه ژونـد کـې لـومړنی ښـوونکی او روزونکـی دی، چـې خپلـو ملګـرو او اصـحابو تـه يـې ټـولې هغـه لارې چـارې وښـودې، چـې د دوی عـام او خـاص ژونـد پـورې يـې اړه درلـوده. دغ ه چـارې د ژونـد ټولـو اړخونـو تـه دينـي، اخلاقـي، نفسي- او کـه ټـولنيزه خـوا دي شـاملې دی. دغـه پوهنـه پـه داسـې شـکل او کـړنلارې هغـوی تـه وړانـدې شـوه، چـې پـه ښـه توګـه د منـل کيـدو ترڅنـګ د دوی د مينې او محبت وړ هم وګرځيده.

پــه دې څېړنــه کــې د رســول اللــهﷺ د ښــوونيزې کــړنلارې او د هغــې د ځانګړتيــاوو پيژندنــه تــرسره کيــږي او هغــه وســايل او حکيمانــه اســاليب پکــې پــه ګوتـه کيـږي، چـې هغـه سـپيڅلي معلـم پـه خپلـه ښـوونه کـې کـارولي او د نـن ورځـې د ښـوونې پوهــان پــرې تاکيــد او ټينګــار کــوي. دا څېړنــه دا خــبره پــه ډاګــه کــوي، چـې د امـت او بشر-يـت ښـوونه د پيغمـبر صـلی اللـه عليـه وسـلم لـه سـترو دنـدو څخـه وه او هغــه پــدې اړه داسي اصــول او بنســټونه ايښــي دي، چــې د علــم او پــوهې مينه وال يې د ځان لپاره مشال او ډيوه ګرځولای شي.

پـه دې څېړنـه کـې پـه تعليـم او ښـوونه بانـدې د پيغمـبرﷺ ټينګـار او لـه غفلـت څخــه د خلکــو ويــرول د هغــه تعليمــي شخصــيت څرګنــدوي. دغــه څېړنــه د رســول اللــهﷺ د ښــوونيزې کــړنلارې بيلابيــل اړخونــه روښــانه کــوي، چــې پــه سر کــې يــې ښــوونيز اخــلاق او ســلوک راځــي، همــداراز پــه ښــوونه کــې د مناســبو فرصــتونو پــه ګوتـه کـول، د نيکـو او ښـو جملـو اسـتعمال، د ګڼـو حسي- او معنـوي توکـو ښـودل، د ســستی پــه وخــت کــې د تــوبيخ او ســزا د مســألې بيــانول، د بــيلا بيلــو بلاغــي صــنعتونو کــارول، د حرکــاتو او ځــانګړو اشــارو پــه ډاګــه کــول، د زده کوونکــو د حــالاتو پــه پــام کــې نيــول، د ښـځو او ماشـومانو پـر تعلـيم ټينګـار او د ښـوونې د اصــولو او ضــوابطو مراعــات هغــه عنوانونــه دي، چــې پــه دې څېړنــه کــې مطــرح کيـږي. دڅېړنـې پـه وروسـتۍ برخـه کـې د دغـې کـړنلارې دينـي، اخلاقـي، نفسي- او ټــولنيزې اغيــزې پــه ګوتــه کيــږي او بيــا لــه معــاصرې تــدريس پــوهنې سره پرتلــه

کیـږي، سره لـه دې د دغـې کـړنلارې ځانګړتیـاوې هـم پـه ښـه شـوې دي. دا څېړنـه پـه مسـتقیمه توګـه د نبـوي سـنتو لـه سرچینـې او د نبـوي سـیرت لـه کتـابونو څخـه را اخیسـتل شـوې او ځـای پـر ځـای د پوهـانو د نظریـاتو لـه بیـانولو وروسـته د تـدریس پـوهنې لـه اصـولو سره پرتلـه شـوې دي. پـه دې څېړنـه کـې دا خـبره جوتـه شـوې، چـې نبـوي سـنت د شریعـت د مصـدر برسـېره د ښـوونې او روزنـې لپـاره یـوه ځـانګړې کـړنلاره پـه ګوتـه کـړې، چـې خلـک د ژونـد پـه هـر پـړاو کـې علـم او روزنـې تـه هڅـوي. دغـه کـړنلاره پـه ښـوونه کـې د تخصـص مراعـات، د ښـوونکي درنـاوی او پـه تعلـیم کـې د تـدرج مراعـات، د ښـو او غـوره جملـو کـارول او پـه وسـایلو کـې د ګـڼ شـمیر حسيـ او معنـوي توکـو کـارول مهـم او اړیـن ګڼـي. دغـه کـړنلاره د دومـره زمـانې لـه تیریـدو او لرغونتیـا سره سره، لـه دې املـه د ټـل لپـاره ګټـوره ده، چـې وسایل یې ګڼ، ساده او له حده ډېر ښکاره او واضح دي.

**کلیـــدي اصـــطلاحات:** ســـنت، ښـــوونه، روزنـــه، کـــړنلاره، تـــدریس پوهنـــه، اغیزې، وسایل.

# سریزه

الحمد لله الذي علم بالقلم، علم الإنسان ما لم يعلم وصلى الله على رسوله سيدنا محمد وسلم وعلى آله وصحبه وتابعيه بإحسان إلى يوم الدين. أما بعد:

دا يو ثرگند او منل شوی حقيقت دی، چې بشريت له اسلام څخه پرته د بل دين او فلسفې داسې درک نه لري، چې هغه کې پر ښوونې او روزنې داسې ټينگار او پاملرنه شوې وي، لکه ځرنگه چې اسلام کړې او نه هم په دې کچه دعلم لوري ته بلنه، هڅونه او دهغې د قدر د لوړتيا په اړه غږ پورته شوی وي.

**دمسألې بيان:** اسلام د ټولو دينونو او بشري مکتبونو په سر کې د علم ښوونې او د هغه ترلاسه کولو ته خلک رابللي، د دغې مقدسې غوښتنې لپاره يو شمير آداب مخې ته ږدي او بيا يې د دغه هدف ځرگندې اغيزې هم بيان کړي دي، هغه کسان يې ملامت کړي او وېرولي دي، چې له دغې فريضې څخه يې مخ اړولی يا يې غاړه ترې غړولې، يا هم د هغې له غوښتنو سره مخالفت کوي او پر خاوندانو يې تمسخر او ملنډې وهي.

همدې اصل ته په کتو ليدل کيږي، چې د الله تعالی لومړنۍ وحيه د ځمکې پر سر د همدغې سپيڅلې موخې په اړه نازليږي او هغه خپل استازي ته په ويلو او ليکلو او د هغو په زده کولو امر کوي، لکه ځرنگه چې فرمايي: (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ. خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ. اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ. الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ. عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ)[1].

ترجمه: ولوله (اې محمده! قرآن) په برکت د نامه د رب خپل، هغه رب پالونکی چې پيدا کړي يې دي (ټول مخلوقات)، پيدا کړی يې دی انسان له ټوټو د ترليو شويو وينو څخه. ولوله (ای محمده! قرآن) حال دا چې رب ستا لوی کريم دی (پر ټولو کريمانو)، هغه (رب پالونکی) چې ښوولی يې دی (خط انسان ته) په قلم سره، او انسان ته يې هغه څه وښودل چې پري نه پوهيده. دغه سپيڅلي استازي د همدې مبارکې لارښوونې پراساس خپله دنده خلکو ته د ښوونې او روزنې په مجال کې ټاکلې، چې بيا په همدې لړ کې يې د ستر ښوونکي او معلم لقب ځان ته غوره کړ. هغه په خپله ښوونه

(۱) قرآن کريم، {العلق، أية ۱-۵}.

او روزنه کې ښې، ګټورې او پرځای لارې غوره کړې، ترڅو ګټوره ښوونه خلکو ته وړاندې کړي.

هغه پدې پوهیده، چې تدریس او ښوونیزه دنده یوه ستره او پیچلې دنده ده او له ښوونکي او معلم څخه ډیر زیات زیار او کوښښ غواړي، د ترسره کولو لپاره یې هم باید سمه کړنلاره غوره شي، ترڅو د بشریت د استعداد مطابق او د شته امکاناتو له مخې اهمه او مهمه دنده دوی ته وړاندې شي.

له همدې امله په معاصره زمانه کې د علم د خپراوي او ترلاسه کولو لپاره د یوې واضحې او روښانه کړنلارې پر شتون ټینګار کیږي، چې د دغو کړنلارو په سر کې د رسول اللهﷺ ښوونیزه او روزنیزه کړنلاره ځای لري او بشریت ته یې له فیض او برکت څخه ډکې لاس ته راوړنې رامنځته کړې دي.

**د موضوع ارزښت:** د دغې څیړنې اهمیت او ارزښت په دې کې ده، چې دا برخه مونږ ته د نبوي سنتو ښوونیز څرک را مخې ته کوي او له شک پرته د سنتو مقام د مسلمانانو په وړاندې منلی او څرګند دی؛ ځکه اسلامي امت یې د تشریع د دوهم مصدر په توګه پیژني.

د ننی زمانې پوهان دې ته اړتیا لري، چې د خپل پیغمبر ښوونیزه کړنلاره وپیژني؛ ځکه دغې کړنلارې د بشریت لومړنی نسل د قیادت او رهبرۍ جوګه ګرځولی او نن ورځ همدغه کړنلاره یو ځل بیا کولی شي، چې غوره او معیاري ښوونه رامنځته کړي. دغه کړنلاره په هراړخیزه توګه دیني، اخلاقي، ټولنیزې او نفسیاتي اغیزې لري؛ نو په ښوونه کې یې ځکه مراعاتول اړین ګڼل کیږي.

د دیني اصولو له مخې قرآن کریم د اسلامي امت لپاره یو مثالي دستور دی، چې په هراړخیزه توګه د ژوند د ټولو ربړو د سعادت یوازینۍ نسخه ده او د رسول اللهﷺ لارښوونې، کړنې او نبوي سیرت د دغه دستور واقعي تطبیق دی؛ ځکه پیغمبرﷺ د ژوند په ټولو برخو کې د مسلمانانو لپاره بیلګه او مثال دی.

نن ورځ د اسلامي امت لپاره دا یو ستر ویاړ او د فخر ځای دی، چې د دوی په منځ کې د ویاړلي پیغمبرﷺ ښوونیزه کړنلاره شتون لري؛ ځکه دغه کړنلاره د یو

داسې مهربان او زړه سواند ښوونکي لاره ده، چې د بشریت منجي او ښوونکی ګڼل کیږي. همدې موضوع ته په پام د دغې کړنلارې ارزښت په لاندې ټکو کې څرګندیږي:

۱- دغه څېړنه له دې امله ارزښتمنه ده، چې د ښوونې او روزنې په اړه ده او د انسان د معنوي جوړښت بنسټ ګڼل کیږي.

۲- دغه څیړنه په علمي او دیني ارزښتونو بناء شوې او هیله ده، چې د معاصر ښوونیز نظام د بډاینې لامل وګرځي.

۳- د دغې څیړنې له پایلو څخه د ټولنې لاندینیو برخو ته ګټه رسیدلی شي:

الف- په اسلامي هیوادونو کې د تعلیمي نصاب جوړونکو ته.

أ- د بشریت روزونکو ته چې د هغوی په سر کې پلرونه او ښوونکي راځي.

ب- د اسلامي دعوت او اصلاح داعیانو او بلونکو ته.

۴- دغه کړنلاره له نبوي سنتو څخه سرچینه اخلي او پدې توګه د دغې بډاېې پانګې یوه مهمه برخه څرګندوي.

۵- د ننی زمانې مسلمانانو ته د دغې کړنلارې ارزښت او ګټې څرګندول او پدې یې پوهول چې دا کړنلاره د هرې زمانې لپاره د تطبیق او پلي کیدو وړ ده.

٦- د اسلامي تدریس پوهنې د اصولو رابرسیره کول او د دې روښانتیا چې دغه برخه په اسلامي ټولنه کې اصیلې ریښې لري.

**د موضوع د انتخاب لاملونه:** (د رسول الله ﷺ ښوونیزه کړنلاره او د هغې اغیزې) موضوع او عنوان ټاکنه یو لړ لاملونو ته ورګرځي، چې ځینو ته په لاندې توګه اشاره کیږي:

په عام ډول ښوونیزې او روزنیزې کړنلارې په ټولو عصرونو او زمانو کې د علمي حلقو یوه په زړه پورې موضوع او سرلیک دی، چې هر تمدن او علمي حلقه پرې پیژندل کیږي، مګر په نني عصر کې دغه موضوع د انساني پوهنو او پیژندنې په لړ کې د ټولو په سرفهرست کې ځای لري، چې بیا د علم او مکتب اهمیت په همدې کړنلارې پورې تړل شوی.

د رسول الله ﷺ مبارکو سنتو ته په کتو لیدل کیږي، چې دغه کړنلاره د ټولو

کړنلارو په سر کې ځای لري او اغیزې یې په هرې برخې باندې ځرګندې دي. ښوونیزه کړنلارې د علم او پوهنې د پرمختګ بهیر ګړندی کوي او په لړو امکاناتو او فرصتونو سره مطلوبې پایلې لاس ته راوړي؛ چې دغه کړنلاره له یوې خوا مسلمانان له نبوي پانګې څخه خبروي او له بلې خوا یې دې ته هڅوي، چې له خپلو سرچینو څخه استفاده وکړي. زمونږ ډیر پوهان د علم دغې برخې پسې لیرې هیوادونو ته سفرونه کوي او د ډیرو کړاونو سره په دغې برخه کې تخصص او مهارتونه ترلاسه کوي، مګر له دې څخه بې خبره دي، چې زمونږ خپله پانګه تر هرچا بډایه او د کار وړ ده؛ نو له همدې امله لازمه ده، چې په دې اړه یوه مستنده لیکنه ترسره شي.

د هیواد علمي او کلتوري اثارو ته په کتو لیدل کیږي، چې په دې موضوع کې د هیواد په ملي ژبو تراوسه کومه اکاډمیکه او علمي خیړنه نه ده ترسره شوې؛ نو اړتیا لیدل کیږي، چې د هیواد د وګړو په ژبه څیړنه ترسره شي.

د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي ثقافت د ډیپارټمنټ د علمي غړي په حیث مسؤولیت لرم، چې د علمي ترفیع لپاره داسې یوه تحقیقي موضوع وڅیړم، چې د وخت او حالاتو سره سمون ولري، له همدې امله د دوستانو په مشوره مې دغه موضوع د پوهندوی علمي رتبې ته د ترفیع لپاره غوره کړه، هیله ده چې دغه موضوع په دې برخه کې مثمره او ګټوره ثابته شي او د الهي رحمت د وړتیا لامل هم وګرځي.

بنده د۲۰۱۴ میلادي کال په درشل کې متحده عربي اماراتو ته د یو دعوتي سفر په بهیر کې د دبی ښار د جائزة دبي للقرآن مقر څخه د لیدنې پر مهال د (السلام علیک ایها النبي) څیړنیزې موسوعي او دائرة المعارف څخه د لیدنې په ترڅ کې چې د نبي کریم ﷺ په اړه لیکل کیږي، د بیلا بیلو بحثونو چې د دغه ویاړلي پیغمبر په اړه وو، مشاهد و، چې یوه برخه یې د رسول الله ﷺ ښوونیزه کړنلاره وه او دغه برخه زما د خوښیدو لامل شوه، له هماغه ځای څخه مې دا نیت وکړ، چې باید په دې برخه کې یوه علمي څیړنه ترسره کړم.

**د بحث او موضوع ستونزې:** د افغانستان د ملي ژبو په علمي اثارو کې تر اوسه یوه داسې بشپړه څیړنه نشته، چې د رسول الله ﷺ ښوونیزه کړنلاره او د هغې

اغیزې وخیړي.

د ښوونې په برخه کې د رسول الله ﷺ د کړنلارو او لارو چارو په پام کې نیول له حده زيات مهم او اړين ګڼل کيږي؛ ځکه هغه په دغې کړنلارې او بلنې سره يو نه تکراریدونکی نسل وروزه، چې همدوی بیا د بشریت قیادت او رهبري په غاړه واخیسته او دغه بډایه میراث یې ترمونږ پورې راورسوه.

رسول الله ﷺ د ديني نصوصو له مخې ځان د امت ښوونکی او روزونکی معرفي کوي، چې بيا يې د خپلې ښوونيزې کړنلارې له مخې ستري لاس ته راوړنې راوړي.

که څه هم چې ښوونه او روزنه سره تړل شوي، مګر ډیرو لیکوالو او څیړونکو د روزنې په اړه لیکنې ترسره کړي، چې ښوونیزه برخه ترې پاتې ده او له شک پرته د دې برخې ارزښت له روزنیزې برخې څخه څه کمه نه ده. مونږ ته د خپل ویاړلي پیغمبرﷺ د پیروانو په توګه په کار دی، چې د تعلیم په برخه کې د خپل پیغمبر کړنلارې باندې پوهنه ترسره کړو او د نوي تدریس پوهنې له اصولو سره یې پرتله کړو او له دې ګټورو پایلو او اغیزو څخه یې د علم او پوهنې لاروي خبر کړو. زمونږ پوهانو ته لازمه ده، چې یوازې د غربي پوهانو په لیکنو باندې بسنه ترسره نه کړي او له خپلې اصیلې سرچینې څخه چې هم بډایه او د ځانګړتیاوو لرونکې ده، څه راوخلي.

**د څیړنې موخې او اهداف: د** دغې څیړنې او لیکنې لنډې موخې او اهداف په لاندې ټکو کې خلاصه کیږي:

څرنګه چې د موضوع په ارزښت کې دا خبره روښانه شوه، چې د دغې څیړنې او تحقیق اساسي موخه دا ده، چې د رسول اللهﷺد ښوونیزې کړنلارې او د هغې د اغیزو په اړه یوه جامع او ټولیزه پیژندنه ترسره او دا هم روښانه شي، چې دغه کړنلاره ډیره روښانه او د ستر اغیزو لرونکې ده.

دغې کړنلارې د خپلو پیاوړو اصولو له مخې وکولی شول، چې پیاوړی او نه تکراریدونکی امت وروزي، چې همدوي بیا دغه پیغام د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورساوه. څیړنه په ځینو مواردو کې د کړنلارې ځینې اصول د معاصرې تدریس پوهنې د اصولو سره پرتله کوي او په دې توګه د دغې کړنلارې روښانتیا او لوړتیا وړاندې کوي. دغه

څېړنه په خپل وار سره د پیغمبرﷺ د مبارک ژوند په یوې سترې برخې پورې اړه لري، چې خبریدل ترې هم ښوونکي ته اړین دي او هم زده کوونکو ته.

همداراز د خپلې ټولنې د غنامندۍ او بډاینې لپاره دغه لیکنه اړینه ګڼم او په همدې موخه مې دغه سرلیک وټاکه او لاندې عمده مطالب او برخې یې د موخو په توګه څرګندیږي:

**الف- اصلي موخې:**

۱- د رسول اللهﷺ د ښوونیزې کړنلارې پیژندل او څرګندول، او د دې خبرې ثبوت وړاندې کول چې دغه کړنلاره روښانه او واضحه ده.

۲- د دغې کړنلارې اهمیت او ځانګړتیاوې بیانول.

۳- د دغې کړنلارې د کره توب دلایل او شواهد وړاندې کول.

۴- د ژوند په مختلفو برخو کې د دغې ښوونیزې کړنلارې د اغیزو او پایلو پیژندنه.

۵- د هغو لارو او بنسټونو پیژندنه چې دغه کړنلاره پرې ولاړه ده.

**ب- فرعي موخې:**

۱- د معاصرې تدریس پوهنې له اصولو سره د دغې کړنلارې پرتله کول.

۲- د تعلیم او ښوونې د دغې کړنلارې د اهمیت او ارزښت روښانتیا.

په پای کې د ستر ځیښتن تعالی له ذات څخه هیله مند یم، چې دغه ناقص او کم کار د هغه د قبول وړ او د اسلام او علم په لار کې د خدمت وسیله وګرځي او زما د ښویدنو او اشتبهاتو ښښنه راته وکړي.

**د څیړنې او تحقیق پوښتنې:** د دغه تحقیق او څیړنې لپاره لاندې پوښتنې په پام کې نیول شوي او راتلونکو پاڼو کې د دې هاند او کوښښ کوم، چې سم ځوابونه ورته ووایم:

**الف- د څیړنې او تحقیق اساسي پوښتنې:**

۱- په تعلیم او ښوونه کې د رسول اللهﷺ اسلوب او کړنلاره څه وه؟

۲- د رسول اللهﷺ د ښوونیزې کړنلارې ثبوت او دلیل څه دی؟

۳- د ښوونې په برخه کې د دغې کړنلارې اهمیت او ارزښت په څه کې دی؟

۴- د ښوونې په برخه کې دغه کړنلاره څه اغیزې لري؟

**ب- د څېړنې فرعي پوښتنې:**

۱- د معاصرې تدریس پوهنې له علم سره د دغې کړنلارې تړاو څه کې دی؟

۲- په کومو مواردو کې دغه کړنلاره سره توپیر لري؟

۳- د رسول اللهﷺ د ښوونیزې کړنلارې ځانګړتیاوې څه دي؟

**د موضوع تاریخي شالید:** د رسول اللهﷺ ښوونه او روزنه او دې ته ورته نور مفاهیم هغه عنوانونه دي، چې له پخوا څخه د اسلامي امت د علماوو د بحث وړ موضوع ده، د قرآن کریم له تفاسیرو څخه رانیولې، د نبوي احادیثو تر بیلا بیلو کتابونو او د نبوي سیرت تر هغو کتابونو پورې چې تحلیلي جوانب او اړخونه لري، دغه څېړنه په پوره تفصیل سره دغه مسایل څېړي.

د تاریخ په اوږدو کې همدا علم او پوهنه د مدنیتونو او ملتونو د کمال او بشپړتیا نښه وه او د یو تلپاتې اثر او اغیزې په توګه یې بیلګې تر ننه پاتې دي؛ مګر په ټولیزه توګه له ستونزو او ننګونو سره مخ وې، چا د علم داسې اړخ ته پاملرنه کوله، چې تش فلسفي نظریات چې په واقعي ژوند یې اغیزې او پدل نه وه، معلوم او چا یوازې د مادي پدیدو پورې پوهنه تړلې، چې هیڅ معنویات یې نه پیژندل. دغه پوهنه په نیمګړو کړنلارو او اصولو پرمخ تلله او یوازې د اشرافو او بډایو امتیاز وه، چې هغه هم له اخلاقو او ادابو څخه خالي وه. کله چې د اسلام سپیڅلي پیغمبرﷺ نړۍ ته د خپل سعادت او نیکمرغۍ پیغام راووړ، نو د جاهلیت تورتم سره یې مبارزه خپل سرخط وټاکه، ځان یې د ټول بشریت لپاره ښوونکی او رزونکی معرفي کړ. هغه په داسې توګه دغه ډیوه پرمخ بیوله، چې خپلو پیروانو ته یې دا خبره ښکاره کړې وه، چې علم او پوهنه د دنیا او آخرت د نیکمرغیو سرچینه ده. هغه تیاره ذهنونه او عقلونه په دغې ډیوې سره روښانه کړل.

پیغمبرﷺ د یوې روښانې او واضحې کړنلارې په لرلو سره وکولی شول، چې د لږو امکاناتو او د سترو ننګونو په شتون کې هغه هم په لږ وخت او زمان کې دغه ډیوه د نړۍ لر او بر ته ورسوي. د هغه له وفات وروسته چې کومې واکمنۍ د هغه سپیڅلو اصحابو رامنځته کړې، ټولې د علم او پوهنې زانګو وې او له هرې خوا څخه دلته د علم او روزنې

مینه وال راوکوچیدل، دوی بیا د علم او روزنې په لار کې داسې لاړل، چې د وخت طغیان او جهالتونه یې په دغې ډیوې سره یومخ له منځه وړل او ټولو په یوې خولې د دغې ډیوې په حقانیت سره غړونه پورته کول.

بشریت چې کله د علم لاره موندله، نو هر یو د خپلې ټولنې او چاپیریال سره سم داسې کړنلارې ځان ته غوره کړې، چې هماغه ستونزو او کړاونو یې وزیړول، چې پخوانیو ملتونو او مدنیتونو لرل؛ ولې له شک پرته د نوې ټیکنالوجۍ او وسایلو راتګ سره دغه کړنلاره له پخوا څخه څه نا څه بدله او د علم په ترلاسه کولو کې یې دقت، پرمختګ او اسانۍ رامنځته کړې.

په همدې موخه اسلامي امت ته په کار ده، چې هغه تلپاتې ښوونیزه او روزنیزه کړنلاره خپلې مخې ته کیږدي او بیا یې د پوهنې د ترلاسه کولو لپاره وکاروي. دغه کړنلاره بډایه او هم اسانه ده او د سترو اغیزو او پایلو سره کولی شي، چې دغه امت یوځل بیا د دغې برخې سره بډای او شتمن امت وګرځوي.

دغه موضوع د قرآن کریم، تفاسیرو، نبوي احادیثو، نبوي سیرت او د محدثینو په شروحو کې په تفصیل داسي راټوله شوې، چې په دې اړه د دغې قضیې ټول ابعاد رابرسیره او واضح دي. د اسلامي ښوونې پخوانیو او اوسنیو متخصصینو د دغې قضیې ځینې جوانب په پوره تفصیل سره راخیستي او آن د نوي عصر او زمانې د پرمختګونو په رڼا کې یې تر بحث لاندې نیولي دي، چې په حقیقت کې د نن ورځې لیکنې د هماغو بحثونو پایله او نتیجه ګڼل کیږي.

د دغو مراجعو او مصادرو ځینې بیلګې عبارت دي له:

**۱- أصول التربیة الإسلامیة:** د ډاکتر خالد بن حامد الحازمي لخوا لیکل شوی، چې د مدینې منورې په اسلامي پوهنتون کې د تربیې استاد دی. دغه کتاب د دار عالم الکتب خپرندویې ټولنې لخوا چاپ ته سپارل شوی دی او د اسلامي روزنې په اهمیت او بنسټونو باندې لیکل شوی دی.

**۲- تذکرة السامع والمتکلم في أدب العالم والمتعلم:** دغه کتاب د امام قاضي بدر الدین محمد بن ابراهیم ابن جماعة الکناني الشافعي (متوفی ۷۳۳ هجري) له خوا

لیکل شوی او د دار البشائر الإسلامیة ټولنې لخوا چاپ شوی، لکه چې له نوم څخه یې ښکاري، په اسلامي ښوونه کې د عالم او متعلم په ادابو بحث کوي او د مؤلف په وینا ښه ادب هغه مطلب دی، چې په اړه یې شرعه او سلیم عقل غبر پورته کوي او ټول نظرونه یې په اړه اتفاق لري.

**۳- کتاب تعلیم المتعلم طریق التعلم:** دغه کتاب د برهان الإسلام الزرنوجي لخوا لیکل شوی، نوموړی د شپږمې هجري پیړۍ عالم دی او دغه اثر د مروان قباني لخوا تحقیق شوی او د المکتب الاسلامي لخوا په بیروت کې خپور شوی او په خپل باب کې ځانګړې لیکنه ده، چې د ښوونې د لاس ته راوړلو هنر څخه بحث کوي.

**۴- النبي المربي**: دغه کتاب د دکتور احمد رجب الأسمر لخوا لیکل شوی او د اردن د دار الفرقان للنشر والتوزیع ټولنې لخوا خپور شوی او لکه چې له نوم څخه یې ښکاري، د رسول اللهﷺ په روزنیزې برخې چې د ده په ژوند پورې اړه لري، په تفصیل سره بحث کوي او د نبوت د ډیوې بیلابیلې برخې څرکونه مخې ته ږدي.

**۵- المعلم الأول:** دغه کتاب فؤاد بن عبد العزیز الشلهوب لخوا لیکل شوی او د نصرة رسول اللهﷺ ویب پاڼې لخوا خپور شوی، چې په ټولیزه توګه د رسول اللهﷺ په ښوونیزو لارو باندې یې رڼا اچولې ده.

له دغو ټولو څیړنو او لیکنو څخه دا پایله لاسته راځي:

۱- د رسول اللهﷺ د ښوونیزې او روزنیزې کړنلارې په اړه مستدله او په زړه پورې څېړنه کول او د دغې موضوع ارزښت روښانه کول.

۲- د تعلیم په برخه کې د ښوونکي په شخصیت او په تربیه کې د غوره بیلګې د ارزښت روښانه کول.

۳- له دغو څیړنو څخه ډیرې هغه لارې او کړنلارې مخې ته راځي، چې د تعلیم په ډګر کې یې کارول اړین دي.

۴- ټولې دغه څیړنې د تعلیم په ډګر کې د نبوي سنتو پر اصولو ټینګار کوي او د ټولو تمرکز په لاندې توګه دی:

الف- دغه څیړنې تر ډیره روزنیزې برخې تر څیړنې لاندې نیسي.

ب- دغه څېړنې د روزونکي پر شخصيت او بيلګه توب ټينګار کوي او د تربيې په مجال کې د رسول اللهﷺ د لارتعقيبولو سپارښتنه کوي.

ج- دغه څېړنې د روزنې او ښوونې پر ځينو اخلاقياتو او هغو لارو ټينګار کوي، چې له پخوا څخه روزونکو ته معلوم دي، لکه خبرې اترې، کيسې او ....

مګر زما څېړنه له دغو ليکنو څخه د لاندې دلايلو له امله جلا او ځانګړې ده:

۱- زمونږ په ملي ژبه کې تراوسه کومه ځانګړې څېړنه چې دغه موضوع په جلا توګه وڅېړي، شتون نه لري.

۲- دغې ليکنې د رسول اللهﷺ د ښوونې او روزنې زياتي برخې تر څېړنې لاندې نيولي او په ټوليزه توګه جامع او بشپړه ده.

۳- دغه څېړنه د معاصرې تدريس پوهنې له اصولو سره پرتله شوې.

۴- دغه څېړنه تر ډېره په ښوونه کې د هغې اغيزې او پايلې مخې ته ږدي.

۵- دغه څېړنه د قرآن کريم، نبوي سنتو او نبوي سيرت له متنه ډېرې هغه لارې چې رسول اللهﷺ د ښوونې او روزنې په اړه کارولې، راوړي، چې ښايي محدثينو به د علم په باب کې نه وي راوړي، لکه په کتابت باندې د رسول اللهﷺ سپارښتنه، د بې سوادۍ په له منځه وړلو کې د هغه ونډه او داسې نور چې بيا محدثينو له علم څخه پرته په نورو بابونو کې هغه بيان کړي.

٦- او په پای کې دغه کړنلاره د روزنکو لپاره يو جلا او واضح باب دی، چې د استفادې لپاره مخې ته ايښودل کېږي.

**د موضوع مراجعو ته لنډه کتنه:** د رسول الله ﷺ د ښوونيزې کړنلارې موضوع کې د پخوانيو او معاصرو علماوو له آثارو او ليکنو څخه چې بيلا بيلو علومو پورې اړه لري، لکه د تفسير، نبوي احاديث، نبوي سيرت، اسلامي تاريخ او تدريس پوهنې له برخو نه استفاده شوې ده.

په دې اړه د هر کتاب او ليکنې پيژندنه ځان ته د يو بل تاليف غوښتنه کوي؛ ولې دلته د ځينو هغو کتابونو په نومونو او لنډې پيژندنې باندې بسنه کوم او يوازې هغه يادوم، چې ډېره استفاده ترې شوې ده.

**۱- الرسول المعلم وأساليبه في التعليم:** دغه کتاب د سوريې نامتو عالم، محدث او فقيه شيخ عبد الفتاح ابو غدة ليکلی، چې په ۱۴۱۷ هجري کال کې وفات شوی دی.

د دغه کتاب په سريزه کې مؤلف روښانه کړې، چې دغه موضوع يې له دې امله ليکلې، چې د علم، علماوو، تعليم او متعلمينو لپاره دغه اصول لازمي دي. د دې موضوع اهميت او ارزښت په دې کې دی، چې د بشريت د لومړني ښوونکي په شريف سيرت پورې تړاو لري. دغه کتاب په دوو برخو باندې ويشل شوی دی، چې لومړۍ برخه يې د رسول الله ﷺ د مبارک شخصيت او دويمه يې له هغو لارو څخه بحث کوي، چې په تعلم او لارښوونې پورې تړاو لري او رسول الله ﷺپه خپلې ښوونې کې ترې استفاده کړې ده. دغه کتاب د خپلې موضوع له امله يوه نوې او مبتکره برخه ده[۱].

**۲- الرسول والعلم:** دغه کتاب د اسلامي نړۍ نامتو عالم او داعي دکتور يوسف القرضاوي د علم او پوهنې په اړه له نبوي پانګې څخه په استفادې ليکلی دی او د رسول الله ﷺ دريځ يې په دې اړه ځرګند کړی، که څه هم دغه موضوع په قرآن کريم کې هم بداية ده؛ ولې د دې له امله چې موضوعي تفسير پورې اړه لري، نو جلا ليکنې ته اړتيا لري.

دغه کتاب په پنځو برخو باندې ويشل شوی دی:

الف- د علم او علماوو منزلت. ب- د علم اخلاق. ج- د تعليم اداب. د- د تجربوي علم په اړه د رسول الله ﷺ دريځ ه- او په پای کې د تعليم د بنسټونو بيان[۲].

**۳- السنة النبوية رؤية تربوية:** دغه کتاب مصري عالم دکتور سعيد اسماعيل علي په ۲۰۰۱ ميلادي کال کې ليکلی دی. دغه کتاب لکه څنګه چې له نوم څخه يې ځرګند دی، د اسلامي تربيې او روزنې په جوړښت باندې بحث او څېړنه کوي. له نبوي احاديثو او د سيرت النبي ﷺ له لارښوونو څخه په دې مهمه برخه کې د يو اصلي مصدر او منبع په توګه الهام اخلي.

(۱) عبد الفتاح ابو غدة (۱۴۲۹ق). الرسول المعلم ﷺ وأساليبه في التعليم، ط۴، بيروت، مكتب المطبوعات الإسلامية، ۵-۶.

(۲) يوسف القرضاوی (ـــــــــ). الرسول والعلم، مصر، دار الصحوة، ۸.

هغه په دې برخه کې وايي: له کومه چې (مونږ) نبوي مبارکو سنتو ته د دويمې مرجع او مصدر اعتبار ورکوو او له قرآن کريم څخه وروسته د منبع په توګه پرې باوري يو؛ نو لازمه ده، چې د اسلامي روزنې بنسټونه له همدې برخې څخه راواخلو. دا خبره د يو ستر واقعيت په توګه د مطرح کولو ده، چې دغه پانګه د ښوونې او روزنې يوه بډايه برخه ده، چې د قدامت، اصالت، عمق، منهجيت، عملي کيدو له مخې د تطبيق وړ ده (۱).

او په لنډه کې دغه کتاب د روزنې په برخه کې د سنتو له منبع، اغيزو او ارزښت څخه بحث کوي.

**۴- الرسول العربي المربي:** دغه کتاب د علم النفس او اروا پوهنې نامتو پوه دکتور عبد الحميد الهاشمي په ۲۲ څپرکو کې ليکلی دی. دغه کتاب په مجموع کې د نفسي روزنې په برخه کې ژوره څېړنه ده او دا خبره يې ښکاره کړې ده، چې رسول الله ﷺ په خپله بلنه کې د نظرياتو او تطبيقاتو ترمنځ توازن منځته راوستی و او له شک پرته په روزنه کې دغه بلنه ستره ونډه لري.

دغه کتاب د دې موضوع د اهميت په اړه وايي: د عربي روزنکي رسول شخصيت له دې امله د اهميت او قدر وړ دی، چې د دغه انسان لارښوونې په انساني سلوکو، اړيکو او د ژوند ورځنيو چارو کې د ميليونونو انسانانو په روزنه کې ژورې اغيزې پريښې دي او بيا دغه اغيزې نسل په نسل يو بل ته ليږدول شوي دي.

دغه پيغمبر ته په خپل ژوند کې د الله تعالی له لوري وحيه کيدله، ولې په روزنه کې يي انسانيت تمثيلوه، دغه روزنه هر اړخيزه وه، ماشومانو، ښځو، ځوانانو او سړيو ټولو ته شامله وه. دغې ښوونې عملي برخې درلودې او د انساني نفس ټول اړخونه يې له دې سره اشنا، روزل او ښوونه يي ورته ورکوله [۲].

**۵- لغة الجسم في السنة النبوية:** دغه کتاب په اصل کې د اردن پوهنتون د لوړو زده کړو په پوهنځي کې د نبوي احاديثو په څانګه کې د ماسترۍ د تيزس عنوان

(۱) سعيد اسماعيل علي (۱۴۲۳ق ). السنة النبوية رؤية تربوية، ط ۱، القاهرة، دار الفكر العربي، ۴۵.

(۲) عبد الحميد الهاشمي (۱۴۲۷ق). الرسول العربي المربي، ط ۱، الرياض، دار الهدى للنشر والتوزيع، ۸-۹.

دی، چې د محمد شریف الشیخ صالح الخطیب لخوا په ۲۰۰٦ میلادي کال کې د استاذ دکتور شرف القضاة تر لارښوونې لاندې لیکل شوی دی.

په دغه رساله کې په هغو مبارکو احادیثو باندې تمرکز شوی، چې د جسد او جسم ژبې په توګه کارول شوی او دا خبره یې څرګنده کړې، چې رسول الله ﷺ په پوهنه کې په دغې ژبې باندې اهتمام ترسره کړی او صحابه کرامو به له هغې پوهنه ترلاسه کوله.

څیړونکو د دې موضوع د ارزښت په اړه لیکلي دي، چې دغه موضوع په لومړۍ درجه کې د علمي موضوعاتو څخه ده او انسانان ورته په ورځنیو چارو کې ضرورت لري. انسانانو ته له دې امله لازمه ده، چې دغې برخې باندې ځانونه پوه او د ضرورت په وخت کې یې وکاروي. دغه برخه د دې ترڅنګ د جسم او جسد پیغام دی، چې د انسان په داخل کې د مشاعرو او احساساتو په څیر رابرسیره کیږي او په دې توګه د ښې استفادې او ګټې لامل ګرځي[1].

**٦- منهج الرسول ﷺ في التربية من خلال السيرة النبوية:** دغه کتاب په ۲۰۰۸ میلادي کال کې د غزې د اسلامي پوهنتون د تربیې په پوهنځي کې د آغلې منال موسی علي دبابش لخوا د استاد دکتور محمود خلیل ابو دف تر لارښوونې لاندې د ماسترۍ تیزس په توګه لیکل شوی دی.

دغه کتاب لکه څنګه چې یې له نوم څخه څرګنده ده، د رسول الله ﷺ د روزنیزې کړنلارې مهم بنسټونه او اساسات د نبوي سیرت له لارې معرفي کوي.

لیکوال دا خبره لاس ته راوړې، چې نبوي سیرت د روزنې د بنسټونو وړاندې کولو لپاره پراخه میدان دی او دا برخه د اصحابو کرامو په کامیابه روزنې کې یوه بریالۍ لاره وه. په دې کړنلاره کې د ښوونې او روزنې ګڼ شمیر هغه وسایل لیدل کیږي، چې د ښوونې او روزنې پوهان پرې تاکید کوي او په دې توګه کولی شو، چې په ټولو زمانو کې مثمره او ګټور ثابت شي[2].

(۱) محمد شریف الشیخ صالح الخطیب (۲۰۰٦، ماستري پایلیک). لغة الجسم فی السنة النبویة، الجامعة الأردنیة، الأردن، ۹.

(۲) منال موسی علي دبابش (۱۴۲۹ق، ماستري پایلیک). منهج الرسول ﷺ فی التربیة من خلال السیرة النبویة، الجامعة الإسلامیة ،غزة، ۲.

**۷- طرائق النبي ﷺ التعليمية ومميزاتها وأهميتها:** دغه څېړنيزه مقاله په ۲۰۰۷ م کال کې د الأقصی پوهنتون ۱۱ جلد دوهمه ګڼه کې دکتور نايف العطار د غزې اسلامي پوهنتون استاد ليکلې ده.

دغه څېړنيزه مقاله د رسول الله ﷺ ښوونيزې لارې په لنډه توګه راپېژني او په ځينو مواردو کې يې له معاصرو کړنلارو سره پرتله کوي.

دغه مقاله دې پايلې ته رسيدلې، چې نبوي سنت د معاصرې ښوونې بنسټونه پياوړي کوي او په دې برخه کې اصلات او تاسيس له امله ارزښت لري. په نبوي سنتو کې د ښوونې ډيرې داسې لارې شتون لري، چې د دغه علم او پانګې له پلټنې څخه لاس ته راتلای شي[1].

**۸- مأخذ دوم فقه اسلامي:** دغه کتاب د هيواد نامتو پوه او دعوتګر د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي رئيس شهيد پوهاند غلام محمد نيازي په ښکلي قلم سره په ۱۳۴۴ هجري شمسي کال ليکل شوی دی او لکه چې د دې کتاب د وروستي چاپ له سريزې څخه ښکاري، شهيد پوهاند نيازي دغه عنوان د (تدوين السنة وأثر ذلك في الإتجاه التشريعي العام) ترعنوان لاندې د دوکتورا د رسالې د عنوان په توګه د بهرنيو چارو د وزارت له لارې د الازهر نړيوال پوهنتون ته د ثبت لپاره ليږلی و، چې ښايي بيا همدا عنوان په مستقله توګه په دري ژبه ليکل شوی وي.

کتاب که څه هم د سنتو په تشريعي او قانوني اړخ باندې بحث او څېړنه کوي؛ ولې د هيواد ملي اثارو تاريخ ته په کتو ليدل کيږي، چې د نبوي سنتو په معرفۍ او پيژندنه کې د لومړنيو اکاډميکو هڅو څخه ده، چې مرحوم پوهاند نيازي صاحب يې د دې کتاب په يوه برخه کې وايي: د مسلمانانو د اسلامي قانون منابع پيژندل شوي او خوندي دي او له شک پرته چې نبوي سنت په دې برخه کې دويم مقام او ارزښت لري؛ ځکه د مسلمانانو لومړنۍ مرجع قرآن کريم د قانون د اولی مصدر په توګه د شريعت کلي او عام بنسټونه بيانوي او ډير جزئيات او فروعات يې نبوي احاديثو ته پريښي دي.

---

(۱) نايف سالم العطار العطار (۱۴۲۷ق). طرايق النبي ﷺ التعليمية وومیزاتها واهميتها وعلاقة الطرائق المعاصرة بها، مجلة جامعة الأقصي، جلد (۱۱)، ۱۱۰.

له همدې امله اسلامي علماوو او مقننینو ته لازمه ده، چې نبوي احادیثو ته ځانګړې پاملرنه وکړي او د منصوصو احکامو څخه نویو قضاياو ته حل لارې راوباسي[1].

دغه ارزښتمن کتاب کې د سنتو د معنی ترڅنګ، د سنتو وحیانه مقام او له قرآن کریم سره د دې ارزښت لرونکې وحیې تړاو، د سنتو ادوار، د رسول الله ﷺ په علمي مجالسو کې د صحابه کرامو رول او د هغه په خپراوي او په ځانګړي توګه د ښځو رول او نورو مهمو موضوعاتو باندې بحث شوی دی.

**۹- التدریس مبادؤه ومهاراته:** دغه کتاب د تدریس پوهنې په برخه کې د مصر- نامتو عالم او پوه ډاکتر ماهر اسماعیل صبري محمد یوسف لخوا د بنها په پوهنتون کې د ښوونې او روزنې پوهنځي د طرق تدریس څانګې د رئیس او استاد لخوا په ۲۰۰۷ م کال کې لیکل شوی دی، دغه کتاب په دې برخه کې ځانګړې لیکنه ده، چې په اوو څپرکو کې یې د دې علم مهمې برخې را اخیستي.

دغه کتاب دغه پوهنه یوازې د علم په توګه نه بلکې د یو ستر فن په توګه راپیژني او دا خبره هم کوي، چې د تدریس چارې هغه علم او پوهنه ده، چې په ځینو بنسټونو باندې ولاړه ده، چې محدودې برخې لري، ولې په خپل ذات کې استعداد، مهارت، کړنلارو او ښکلاوو ته اړتیا لري، چې د احساس، شعور او ذوق پورې تړاو پیدا کوي. دې کتاب دا خبره هم ښکاره کړې، چې د نوې ټیکنالوژۍ له منځ ته راتګ سره د معلم او ښوونکي اغیز له منځه نه ځي؛ بلکې په هر پړاو کې د ښوونکي اغیز ثابت او تلپاتې دی، په هر وخت کې د ښوونکي شتون ته اړتیا لیدل کیږي او لازمه ده، چې د ښوونکو لپاره کړنلاره او اهداف د بریالیتوب لپاره رسم شي[2].

**د څیړنې محدودیتونه:** په ښوونیزو نظامونو کې د رسول الله ﷺ د کړنلارې څرګندول او له نورو منهجونو سره د هغې پرتله کول په خپل ذات کې یوه ستره او لویه موضوع ده، چې د تراث او د نویو موضوعاتو له ډیرو برخو سره تماس نیولو څخه پرې

---

(۱) غلام محمد نیازي (۱۳۹۷ش). مأخذ دوم فقه اسلامي، ط ۳، قاهرة، کمیته فرهنګي سفارت جمهوري اسلامی افغانستان، ۷٦.

(۲) ماهر اسماعیل صبری محمد یوسف (۱۴۳۰ق). التدریس مبادؤه ومهاراته، ط ۱، الریاض، مکتبة الرشد، ۲.

باید حکم او پوهنه لاسته راشي.

زمونږ د هیواد په اکاډمیکه ساحه کې لا داسې بشپړ تحقیق نه دی ترسره شوی، چې دغه ارزښتناکه موضوع وڅیړي، که څه هم ډېرې برخې یې په نورو ژبو کې او په ځانګړي توګه په عربي ژبه کې ترسره شوي دي.

بنده د موضوع د لویوالي او پراختیا له امله له ځینو ستونزو سره مخ شوی یم، چې یوه یې د مصادرو او منابعو شتون چې له امله یي ښایي په هغه کچه چې په کار وي، دغه څېړنه نه وي ترسره شوې. همدارنګه اړینه وه، چې د دغې کړنلارې ځینې بیلګې په عملي توګه په ځینو اکاډمیکو برخو کې ترڅېړنې لاندې نیول شوې وای او پایلې یې د احصایې له لارې څرګنده شوې وي؛ ولې د وخت او نورو ستونزو له امله دغه کار ترسره نه شو او یوازې په نظري برخه باندې بسنه شوې. همدارنګه د بنده علمي، اداري او ټولنیزه بوختیا له هغو ستونزو څخه وې، چې دغه څېړنه په هغه توګه چې باید شوې وای ترسره نه شوه.

**د څېړنې د لیکلو میتود او کړنلاره:** هر لیکنه او څېړنه یو لړ وسایلو او ځانګړو لارو ته اړتیا لري. په عام ډول په څېړونو او بحثونو کې له دوو لارو څخه استفاده کیږي، چې یوه یې میداني او ساحوي تحقیق دی او بله یې کتابتوني او موضوعي لاره ده، چې په دې توګه په دې څېړنه کې له وروستۍ منهج او میتود څخه استفاده شوې ده.

څرنګه چې هر لیکوال په خپله څېړنه کې ځانګړی میتود او کړنلاره لري؛ نو ما هم د خپلې څیړنې د بشپړتیا پر موخه لاندې کړنلاره ځان ته غوره کړې ده:

۱- د موضوع په اړه به د اسلام د اساسي مصادرو قرآن کریم او په ځانګړي توګه د نبوي سنتو، نبوي سیرت او هغو تفاسیرو، شروحو او معتبرو تاریخي کتابونو نه او په دویم قدم کې د معاصرو پیاوړو علماوو له لیکنو څخه چې په دې اړه یې بحث کړی، استفاده کوم.

۲- دغې څېړنه کې اړینه ده، چې د تاریخي، تحلیلي، مقارن (پرتلیز) او د هغو مستشرقینو په وړاندې چې د اسلام په اړه شکونه او شبهات راولاړوي، د نقد میتود کارول شوی، او له میداني څیړنې څخه له دې امله استفاده نه ده شوي چې په دې

موضوع کې دکارولو نه ده.

۳- د هغو موضوعاتو په اړه چې د علماوو ترمنځ پـه کـې د نظـر او دریـځ بیـل والـی لیدل کیږي، کوښښ شوی، چې د علماوو بیلابیل نظرونه او د هغوی د اسـتدلال معتبـر دلایل په خپل ځای کې وړاندې شي او هغه نظر چې مرجع او یا د څیړونکو پـه وړانـدې غوره ګڼل شوی، په ګوته شوي او په پای کې مې خپل نظر هم په دې اړه وړاندې کړی.

۴- د هرې موضوع په پای کې د هغه مطلب نچوړ په دریېو او څلورو کرښو کې ذکر شوی؛ ترڅو د مطلب خلاصه یاده او له راتلونکې موضوع سره تړاو پیدا کړي.

۵- په هرځای کې د نظریاتو په نقلولو کې د امانتدارۍ اصل رعایت شوی او عموما نبوي احادیث په دې برخه کې مهمه برخـه ده او لـه دې سره ځینـې نـور اقـوال چـې د قاعدې بڼه لري، له خپلو لفظونو سره د قوسونو په منځ کې راوړل شوي دي.

٦- څرنګه چې په اسـلامي علومـو کـې د نبـوي احـادیثو سـند او پرهغـې بیـا حکـم ځانګړی ځای لري؛ نو په همدې موخه دغه څیړنه کې هاند شوی، چې د نبوي احـادیثو او سیرت له معتبرو مصادرو څخه استفاده وشي، ولې د دې ترڅنګ د صـحیح البخـاري او صحیح مسلم نه پرتـه چـې د امـت علـماوو یـې د صـحت پـه اړه اجـماع کـړې، د نـورو احادیثو حکم د څیړنې په لمن لیک یا پاورقۍ کې واضح شـوی او غالبـا د شـیخ البـاني رحمه الله په حکم چې په دې اړه یي ستر خدمت ترسره کړی او ځـانګړي کتابونـه لـري، اکتفاء او بسنه شوې ده. د سنن أربعة د احادیثو په اړه د شیخ ألباني رحمه الله حکـم د الشاملة الکتروني کتابخانې څخه اخیستل شوي کوم چې په الکتروني ډول د مرکـز نـور الإسلام لأبحاث القـرآن والسـنة بالإسـکندرية لخـوا د نبـوي احـادیثو دخـدمت پـه موخـه وړاندې شوي دي.

۷- عموما په څیړنه کې د کابل پوهنتون د لیکنې طرز العمل څخه اسـتفاده شـوې او په ماخذ ورکولو کې د لوړ زده کړو د وزارت لخوا منل شوی شین کتاب پـه دې اړه زمـا لارښـود دی، کـوم چـې پـه مأخـذ لیکنـې کـې د شـیکاګو(Chicago) دمیتـود دکـارولو سپارښتنه کوي.

۸- د احادیثو په مستند سازۍ کې د کتاب د نوم ترڅنګ د جلد او صفحې شـمیره او یا هم په ځینو کتابونو کې د حدیث شمیره یاده شوې ده.

۹- د قرآن کریم د اېتونو د معناوو په ترجمه کې د (په پښتو ژبه د قرآن کریم د معانیو ژباړه او تفسیر) چې په (کابلي تفسیر) مشهور دی او په اصل کې په اردو ژبه شیخ محمود الحسن دیوبندي لیکلی او ډېر پخوا د افغانستان دعلماؤ د یو ټولي لخوا پښتو ژبې ته ژباړل شوی دی، د ماخذ په توګه کارول شوی او یوازې په پای کې د مرجع په حیث یوځلې ذکر شوی دی.

۱۰- دغې څېړنه کې د پخواني دینونو د پیژندنې پر موخه د مقدس کتاب (بایبل) څخه هم استفاده شوې، چې بیا د حوالې د یادولو په وخت کې د کتاب نوم، د برخې او پارګراف شمیره په قوس کې یاده شوې ده.

۱۱- د موضوع بیلابیلې برخو په اړه د تدریس پوهنې کتابونو او مراجعو ته مراجعه شوې او په ډېرو ځایونو کې نبوي احادیث له دغو کړنلارو سره پرتله شوي دي.

۱۲- د منابعو په فهرست کې د کتابونو د چاپ په کال کې تر ډېر ځایه یوازي د نبوي هجرت په قمري کال چې یو اسلامي ارزښت دي اکتفا او بسنه شوي دي.

۱۳- که کله د موضوع د علمي او څېړنیزې برخه کې له ستونزو سره مخ شوی یم، نو د محترم پوهاند خلیل الله مهمند چې د رسالې لارښود استاد دی او د پوهنځي له نورو درنو استادانو څخه مې لازمې لارښوونې او مشورې اخیستي، چې په پایله کې ما خپله څېړنه بشپړه کړې، چې له ټولو نه مننه او قدرداني کوم.

**د څېړنې جوړښت:** دغه څېړنه په دریو فصلونو کې ترسره شوي چې لومړی فصل یې دموضوع دکلیاتو په اړه ده چې د "ښوونکی پیغمبر او پر تعلیم دهغه ټینګار" تر عنوان لاندي راغلي، دوهم څپرکی چې دمضوع اصلي برخه ده "د رسول الله صلی الله علیه وسلم دتعلیم او ښوونې کړنلاره" تر عنوان لاندي رغلي چې په دولسو مبحثونو کې پري بحث شوي چې بیا دهر مبحث لاندي بیلا بیل مطالب راوړل شوي.

او دریم او وروستي فصل کې " درسول الله صلی الله علیه وسلم ښوونیزې کړنلاري ارزښت او اغیزې" ته بیل شوي چې په حقیقت کې ددې موضوع پایلې او اهداف ترسیموي.